# نصرالله خان نصر د یو مفکر په حیث

## Nasrullah khan Nasar as a Thinker

Dr Kiren Sinen*

**ABSTRACT**

Nasrullah Khan Nasar has done a lot of contributions for the promotion and development of Pashto language and Pashto literature. He not only contributed in translating books into Pashto language but also has a great role as researcher and scholar in the field of Pashto. In this article, the role of Nasrullah Khan Nasar as a Philosopher was discussed in detailed. There are two aspects of his philosophical contributions. The first one is his own approach as a philosopher and the second one is towards the formation and structure of pukhtoon society. In Pushto literature, such type of analysis as a thinker is very rare. So the contributions of Nasrullah Khan Nasar is very important to study regarding the problems of Pakhtoon society.

**Ker Words:** Philosopher, contributions, pukhtoon society, Pushto literature

په عمومي توګه د مفکر اصطلاح هغه چا د پاره استعمالولے شي څوک چې د کائناتو په مختلفو اړخونو او مختلفو علومو او فنونو کښې غور، فکر او تدبر کوي او دغسې د فلسفي غرض او غایت هم د کائناتو په پېدائش، ارتقاء او په کائناتو کښې د انسان په کردار، مقام او حیثیت او نورو اړخونو غور و فکر کول دي. په دې وجه فلسفي، حکیم او دانشور ته عموماً مفکر هم وئیلے شي. خو په دې بحث کښې مونږ چې اروابښاد نصرالله خان نصر صاحب د یو مفکر په حیث پیش کوو نو مطلب مو د کومې فلسفې راسپړدل یا د کومې فلسفیانه نظرئې پیش کولو او د نصر صاحب د کائناتو د تخلیق او انساني کردار په حقله د هغۀ د تصور وضاحت نۀ دے، بلکې دلته د مفکر نه مراد په ساده او سوچه ټکو کښې د نصر صاحب د افکارو جائزه اخستل دي. د نصر صاحب افکار څۀ دي؟ پښتون اولس او انسانیت ته د هغۀ فکر نه څۀ ګټه رسیدلې ده؟ هغۀ د خپلې خاورې، وطن، ژبې، ادب، ثقافت او ټولنې د تحفظ، بقا او ترقۍ د پاره څۀ فکر کولو؟ او دغه لړ کښې د هغۀ افکارو د علم او بصیرت رڼا تر کومه

---

* GGDC Charsada

حده خوره کړې ده ؟ په دې بحث کښې به د دغو نُکتو وضاحت کولے شي او د هم دغه زاويې نه به د نصر صاحب د فکر جاج اخستلے شي۔ دې لړ کښې دا خبره هم څرګندول ضروري دي چې نصر صاحب د خپل فکر پلوشې په ګڼو حيثيتونو او ګڼ شمير رنګونو کښې خورې کړې دي۔ د نصر صاحب ذاتي فکر ، د هغهٔ سياسي فکر و نظر ، د هغهٔ مذهبي افکار او نظريات ، د خپلې ټولنې د پاره د نصر صاحب د فکر مرکز ، د خپلې ژبې او ادب د پاره د نصر صاحب د فکر په زاويه به دې ليک کښې خبرې کولے شي او دغسې به دا هڅه کولے شي چې په مجموعي توګه د نصر صاحب د افکارو او نظرياتو يوه داسې جائزه واخستے شي چې مونږ ته د يو مفکر په حيث د نصر صاحب د مقام اهميت او حيثيت څرګندونه وشي۔ دا بحث مونږ په دې غټو زاويو ويشلے شو۔

**نصر الله خان نصر د مفکر په حيث:** نصر الله خان نصر د پښتو د نوي شعر او ادب د قافلې هغه سالار دی چې هميشه په وړومبي صف کښې ولاړ پاتې شوی دی۔ که تخليق دی او که هنر دی۔ ادبي خدماتو لړۍ ده او که د پښتو د کتابونو پنډونه په سر ګرځول دي ، خو د پښتو دغې خادم ترې نه په يو ميدان هم سر نه دی غړولی۔ تل ئې خپلې خوږې ژبې ته په روڼ تندي او په سړه سينه خپل خدمات وړاندې کړي دي۔ دلته مونږ د نصر الله خان نصر صاحب مفکرانه حېثيت څېړنه کوو او په بېلابېلو ذيلي عنواناتو کښې وېشو:

**ذاتي فکر:** ذاتي فکر نه مراد هغهٔ نفسياتي محرکات دي کوم چې په فطري توګه د انسان په داخل کښې متحرک و سرګرمِ عمل وي۔ دغه محرکات انسان د ژوند مختلفو ډګرونو ته ور مخامخ کوي او دغسې د انسان د ذاتي فکر په نتيجه کښې هغه د خپل راروان ژوند يا مستقبل د پاره ځان ته لارې سموي۔ يا به دا ووايو چې د ماحول د اثراتو او تربيت نه علاوه د انسان خپل خواهشات ، سوچ او فکر هم د انسان د ذات په تکميل کښې ډېر لوے کردار لوبوي۔

د اردو نامور دانشور ډاکټر نصير احمد ناصر د فکر او تفکر وضاحت د تخيل د اصطلاح سره د موازنې نه پس کوي او وائي چې فکر يا تفکر د يو خاص مقصد د حصول د پاره غور او فکر ته وئيلے شي۔ ښاغلي نصير احمد ناصر دغه وضاحت په خپل کتاب "*جمالیات قرآن حکیم کی روشنی میں*" کښې کړے دے چې خلاصه ئې ښاغلي حنيف خليل په خپلو الفاظو کښې داسې پيش کړې ده۔ : " کله چې د يو متعين مقصد د پاره سوچ کولے شي او د حقيقت لټون کولے

شي نو دغه سوچ ته مونږ د تفکر نوم ورکولے شو۔ او کله چې د متعین مقصد د حصول نه ازاد او د حقیقت نه لرې سوچ کولے شي نو دغه سوچ ته تخیل وئیلے شو۔ " (۱)

مونږ چې نصرالله خان نصر صاحب د یو مفکر په حیث پیش کول غواړو نو مقصد مو دا دے چې د نصر صاحب څۀ اغراض او مقاصد وو چې په خپل ژوند کښې ئې حاصلول غوښتل او د خپلو دغو مقاصدو د حصول دپاره د هغه د غور او فکر انداز څۀ وو او بیا د خپل غور او فکر په نتیجه کښې ئې څۀ عملي هڅې کړې دي چې د هم دغه تفکر عملي نتیجه ئې هم تر لاسه کړې وي ۔ د نصرالله خان نصر دغه اندازِ فکر ته مونږ د هغۀ ذاتي فکر وئیلے شو چې په کښې د هغۀ خواهشات او آرزوګانې هم شاملې دي ، د هغۀ د سوچ او فکر انداز هم او د هغۀ په ژوند کښې تر لاسه کوونکي اغراض او مقاصد هم په کښې شامل دي۔ د کومو دپاره ئې چې وړومبے خو غور و فکر کړے دے او بیا ئې د هغې د حصول د پاره عملي هڅې هم کړي دي ۔ د خپل ذاتي فکر دغه انداز ئې د څو مثالونو او وضاحتي بیانونو سره نور واضح کول غواړم۔

**د تعلیم فکر** :-د تعلیم فکر د یو انسان د ذاتي فکر نه زیات د هغۀ د مور پلار ، استاذانو او د ټولنې د مجموعي تربیت نتیجه هم کیدے شي۔ خو دغه تربیت سره د انسان ذاتي فکر هم وده مومي او هغۀ د خپل وړاندې منزل تاکلو جوګه پخپله جوړیږي ۔ ځکه خو د تعلیم ماهران دا ضروري ګڼي چې استاذان او د نصاب جوړونکي چې کله هم نصاب تیاروي نو د طالب علم د ذاتي استعداد او صلاحیت د هغۀ د شخصیت د داخلي محرکاتو ، مزاج او ذهني معیار خیال ساتل په کښې ډیر ضروري دي ۔ دې لړ کښې نامور فلسفي او دانشور علي عباس جلال پوري د ځنو ماهرینو او مفکرانو مثالونه هم ورکړي دي او د تعلیم او نصاب سازۍ په عمل ئې زړۀ پورې بحث کړے دے۔ علي عباس جلال پوري لیکي!

> "نصاب مرتّب کرتے وقت اِس بات کا خیال رکھنا ضروری ہے کہ ہمارے پیشِ نظر مقصد کیا ہے۔ پہاڑ والے اپنے بچوں کو جنگجو بنانا چاہتے تھے۔ اِس لئے اُن کے نصابِ تعلیم میں جسمانی ورزش اور جفاکشی پر زور دیا گیا تھا۔........ آج کل نصاب کو مرتب کرتے وقت سائنس کی تدریس کا خاص اہتمام کیا جاتا ہے تاکہ بچوں میں تحقیقِ علمی کا شوق پیدا ہو اور وہ اُن توہمات سے محفوظ رہ سکیں جنہوں نے صدیوں سے ذہنِ انسانی کو پراگندہ کر رکھا ہے۔ نظری و تجرباتی سائنس کی تدریس کے بغیر صنعتی معاشرے کے سیاسی، معاشی اور عمرانی تقاضوں کو پورا کرنا ممکن نہیں ہے۔"(2)

ترکومه حده چې د نصرالله خان نصر صاحب د تعلیم په حقله د ذاتي فکر خبره ده نو دې لړ کښې هغۀ د ابتدا نه د وینښ ضمیر خاوند وو او په فطري توګه ورسره د خپل تعلیم فکر ملګرے وو. سره ددې چې د هغۀ د تعلیم په فکر کښې د هغۀ مور او استاذان هم فکرمند وو خو په دې کښې د نصر صاحب د ذاتي فکر نتیجه هم شامله وه چې ښاغلي میر رحمان غازي ورته په دې ټکو اشاره کړې ده : "اول جماعت پورې تعلیم خو ئې د خپل کلي په پرائمري مدرسه کښې حاصل کړو. نصر صاحب ډېر باقاعده او په خپل کار کښې چاق وۀ. هلکانو کښې عزیز او استاد صاحب ئې قدر کوو. هېڅ کله له مدرسے نه غیر حاضر شوے نۀ وۀ او نۀ ئې داسې خیال چرې راغلے وۀ"(۳)

د نصر صاحب د ذاتي فکر څرګندولو د پاره د هغۀ د مشن او د ژوند د مقصد په حقله ځو خبرې کول غواړم چې دغسې د هغوئ د ذاتي فکر د مرکزي نکتې وضاحت هم وشي او بیا د خپل مشن د تکمیل د پاره د هغۀ د غور و فکر په نتیجه کښې د هغۀ د عملي هڅو یادونه هم وشي.

ښاغلي میر رحمان غازي په خپل کتاب "د صحرا ګل" کښې "د نصر صاحب مشن او توره" د عنوان لاندې د نصر صاحب د ذاتي فکر مرکزي نکته واضحه کړې ده او په مجموعي توګه ئې د معاشرتي او ټولنیزو غوښتنو د تکمیل په حواله هم د نصر صاحب د ذاتي فکر وضاحت کړے دے. ښاغلے غازي په دې حقله لیکي !

> " د باریکو فلسفو او منطق ددۀ په مازغو بوج نه دي اچول په کار. د سپاهي کار جنګ کول او حکم منل دي. ددۀ علق له صرف دومره صیقل ورکول په کار دي چې خپل منزل مقصود ورته ښکاره شي. او لوئې نه لویه د قرباني جذبه په کښې پېدا شي. " (۴)

**د پښتنې معاشرې فکر**: نصر صاحب په بنیادي توګه د پښتون ملت ، د ترقۍ او بقاء د پاره همیشه فکرمند پاتې شوے دےاو د دغه مقصد د پاره هغه د ادبي ټولې د قیام سره سره د سماجي او ټولنیزو خدماتو د پاره هم عملي هڅې کړي دي . په پښتون اولس او په خپل چاپېریال کښې د پښتنې معاشرې په ترقۍ نصر صاحب همیشه نظر ساتلے دے او دې لړ کښې ئې د غور و فکر نه کار اخستے دے . د هغۀ د دغه سوچ او معاشرتي فکر څرګندولو د پاره د هغۀ د یو تقریر نه یو اقتباس وړاندې کولے شي کوم چې ښاغلي میر رحمان غازي په خپل کتاب

" د صحرا گل " کښې نقل کړے دے۔ نصر صاحب په خپل دغه تقریر کښې وائي۔ : یو طرف ته د سرحداتو بې دیوالونو او بې چهتونو سکولونه دي او بل طرف ته د تهذیب او تمدن د انگریزي راج سکولونه دي۔ چې د غلامۍ په چونه او خټه اودریدلي دي۔ نو د عمل په میدان کښې نن مونږ گورو چې کومې یونیورستۍ قابل او فدا کار او یوه خلق پیدا کړي دي۔ څوک د کشمیر په اهمیت نۀ پوهیږي۔ دا زمونږ د ژوند او د مرګ سوال دے۔ دے باندې د ائنده دنیا د عالمگیر اسلامي حکومت دارومدار دے۔ لیکن تاسو اوگورئ چې د هغې مقصد د پاره او صرف د الله پاک او لوئې نوم د پاره څوک په جهاد کښې حصه اخلي۔ (۵)

دلته نصر صبب باقاعده توگه د تعلیم په افادیت او اهمیت باندې زور راوړي او وئیل غواړي چې باید داسې تعلیمي فلسفه عام کول پکار دي چې مونږ د یو مهذب ښهري په حېثیت نړۍ ته ور وړاندې کړي۔

**سیاسي فکر**: نصر الله خان نصر صاحب علمي سیاستدان نۀ وو خو نظریاتي سیاست دان ضرور وو۔ هغه یو واضح سیاسي فکر او نظریه لرله او هر وخت به ئې هغې د پاره عملي هڅې هم کولې۔ نصر صاحب په یوه داسې زمانه کښې خپلې هلې ځلې جاري ساتلې دي چې یوه برخه په کښې د پاکستان د قیام نه وړومبي دور سره تعلق لري او یوه برخه په کښې د قیام پاکستان نه پس دور سره تعلق لري۔ په دغو دواړو دورونو کښې د برصغیر د خلقو او قومیتونو سیاسي نظریې او د حکمرانې طبقې ، رویې او انداز جدا جدا وو۔ دغه وجه ده چې د نصر صاحب سیاسي فکر ته هم د قیام پاکستان نه اول او قیام پاکستان نه پس دوو جدا جدا زاویونه کتل پکار دي۔ لکه چې وړاندې ذکر شوے دے چې نصر صاحب نۀ خو د پاکستان د قیام نه اول کوم خاص سیاسي پارټۍ سره تعلق لرلو او نۀ د قیام پاکستان نه پس۔ خو یوه خبره واضحه ده چې د هغه په سیاسي فکر کښې د پښتون قوم ترقي په مجموعي توگه او د پښتو ژبې او ادب ترقي په خصوصي توگه شامل پاتې شوي دي۔ البته د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ د پاره نصر صاحب د قیام پاکستان نه وړاندې د انگریز سرکار د حکومتي پالیسو او جبر مقابله کوله او د قیام پاکستان نه پس ئې د پاکستان د حکومتي روئیو او سیاسي روئیو تر مخه خپلې پالیسۍ جوړولې۔ د نصر صاحب په سیاسي فکر کښې لکه چې وړاندې ئې یادونه شوې ده بنیادي نکته د پښتو ژبې او ادب خدمت او ترقي ده چې وروستو به پرې خبرې کوو۔ خو دې نه علاوه هم د نصر صاحب زمانه د سیاسي انتشار او اړي گړي زمانه وه او دغه د سیاسي انتشار په زمانه

کښې نصر صاحب د خپل سیاسي فکر مطابق خپل فعال کردار لوبولے دے ۔ د نصر صاحب د دور د سیاسي حالاتو او د نصر صاحب د سیاسي کردار په حقله ښاغلي میر رحمان غازي لیکلي دي چې : " بیا هم د دوئ په ژبه کښې یعني پښتو کښې هغه د نامي فلسفیان او شاعران و ادیبان تیر شوي دي ۔ په چا چې د نورو ژبو خلق د فخر پګړۍ لګه ګرزه وي ۔ تصوف ، حکمت ، شجاعت ، معاشرت ، سیاست ، اخلاق ، یو هم داسې اړخ نشته چې د پښتون یو جامع او د کامل شاعر کلام په هغې موجود نهٔ وي ۔ خو افسوس دے چې دا قوم د خپلو ورانو د سمه ولو او د خپل ملک د سنبهاله ولو نه فارغ نهٔ وو۔ چې د غلامۍ لعنت پرې راپریوتو۔" (۲)

نصر صاحب د یو داسې سیاسي نظام او سیاسي نظریې په حق کښې وو چې د منافقت، دروغ بیانۍ او دهوکې نه پاک وي ۔ هغه ددې قسمه فکر او نظریې خورولو او عام کولو دپاره د خپل قلم ، شاعرۍ او ادب استعمال هم کړے دے او په عامه اولسي سطح ئې هم ددغه فکر د عام کولو هڅې کړي دي ۔ د نصر صاحب د شعري مجموعې "د ضمیر آواز" په پیژند ګلو کښې نومیالي محقق ، نقاد او نظریاتي سیاستدان همیش خلیل صاحب د اروابناد نصر الله خان نصر ددغه سیاسي فکر او نظریې وضاحت کړے دے او د نصر صاحب د څو شعري نمونو پېش کولو سره ئې د نصر صاحب د سیاسي فکر جائزه اخستې ده ۔ همیش خلیل صاحب په دې حقله لیکي " نصرصاحب د ژبې ترقي د قوم بنیادي ترقۍ ګڼلو سره سره د خودغرضۍ او اقدار د خواهش نه پاک سیاست هم قائل دے ۔ سیاست کښې د سطحي او تخریبي کارونو سخت مخالف دے ۔ محض د انقلاب زنده باد د چغو او څنو موجوده سیاستدانانو (چې منتهائے نظریې د زاتي اقتدار نه سیوا بل هېڅ غرض نه وي او د اسلام ، قوم او ملک په نوم اولس ته د فریب شنه باغونه ښائي ) هم په کلکه مخالف دے ۔ او په پټو سترګو ئې پیروي نه کوي (۷)

**مذهبي فکر**: د نصر صاحب د مذهبي فکر ماخذونه او ذریعې د هغهٔ په ذاتي ژوند کښې دین او مذهب طرف ته د هغهٔ میلان ، د هغهٔ دیني خدمات د قلم په ذریعه او د هغه شاعري ده ۔ د نصر صاحب په ذاتي ژوند کښې د هغهٔ دین او مذهب طرفته د میلان په حقله ئې ښاغلي میر رحمان غازي د نصر صاحب په سوانح عمرۍ کښې څنې اشارې کړي دي ۔ دې نه علاوه د نصر صاحب د تصوف په لور میلان صوفیائے کرامو سره عقیدت او مینه او د هغه روحانیت ته ئې هم اشارې کړي دي چې د نصر صاحب د مذهبي فکر ترجماني کوي ۔ ښاغلے غازي د نصر صاحب د عبادت شوق په دې ټکو کښې څرګندوي:

"اَلاٰ بِذِ کرِ اللہِ تَطمَئِنُّ القُلُوب

د انسان زړهٔ بغير د خداے جل شانه له ياد نه اطمينان او آرام نهٔ مومي نصر صاحب په ياد الٰهي کښې ډېر وخت مشغول وي. ډېر پاک و صاف ژوند تيره وي. دهٔ ورځې ئې د پښتو خدمت ته ملا تړلې وي او د شپې د الله پاک سره خپل راز و نياز ساتي. عموماً درې بجې د شپې پاسي. مونځ، وظيفه او مطالعه کوي تر سحره ئې دا شُغل وي او بيا ئې خپل مشن او مقصد وي." (۸)

د ارادې نه پوخ چې د هغوئ پوخوالے په کلي کښې مشهور دے. قول او فعل کښې تضاد نشته. ساده باده خبرې چې دا کار به داسے وي. د عمل يو مضبوط غر دے چې "نا" ئې وکړهٔ نو بس ټول پوهه شي چې دا کار به اوس داسې نهٔ کېږي. هم دا وجه ده چې د نصر صاحب دوستان ډېر لږ دي. په مانځه کښې د نصر صاحب د عاجزۍ او بندګۍ تصور او انداز مخصوص دے او د مذهبي راهنمايانو د پاره داسې سوچ لري: "هغوئ دا نظريه ده که چرې هر کله زمونږ دا مذهبي رهنمايان اوچت شي او بيدار شي نو د قوم بېړۍ به زر پورے اوزي." (۹)

د نصر صاحب د مذهبي فکر اندازه دې نه هم کېدے شي چې هغهٔ د ديني عالم او دانشور محمد اسماعيل کتاب معرفته القرآن او دغه کتاب سره د محمد بن محمد جذري شافعي د مقدمې اشاعت په مذهبي عقيدت او ديني احترام سره کړے دے. هر څو که دغه کتاب د نصر صاحب په ژوند کښې چاپ نهٔ شو خو ولې هغهٔ په خپل ژوند چاپ ته تيار کړے وو چې وروستو د هميش خليل صاحب په کوششونو د نصر اکېډمۍ پېښور له خوا په مارچ ۱۹۲۲ء کښې چاپ شو. هميش خليل صاحب د دغه کتاب د اشاعت په حقله ليکي: "نصر صاحب د خداے پاک دې ئې په ګور نور اووري. د مرګ نه څهٔ موده وړاندې په ډېره مينه او شوق ددې رسالې مسوده د اشاعت د پاره تياره کړه. او دا ئې خواهش وو چې زر تر زره چاپ شي. ولې د مرحوم دا خواهش تر سره کيدهٔ به الله پاک ته منظوره نهٔ وه او هم دغه شان د پښتو ادب د پر مخ تګ د ډېرو ارمانونو سره دغه يو ارمان ئې هم د ځان سره يوړو." (۱۰)

محمد بن محمد جزري ددې کتاب په ديباچه کښې د کتاب تعارف داسې کوي: "خپل رب اوريدونکي ته د معافۍ اميدوار محمد بن محمد چې د جزيرې اوسيدونکے او په مذهب شافعي دے. عرض کوي چې ټول تعريفونه يوازے د الله دپاره دي. او رحمت ددې د هغهٔ په پيغمبر او غوره کړي محمد صلي الله عليه وسلم او د هغهٔ په آل او اصحابو او د قرآن مجيد په

لوستونکیو سره د هغې خلقو کوم چې قرآن شریف سره مینه لري. د بسم الله، تعریف او درود نه پس د لوستنکو ته معلومه وي چې د ے رساله کښې هغه قاعدے بیان شوے دي. د کومو چې د قرآن مجید لوستونکوله د هغې زدکړه ضروري ده او چې د قرآن د لوستو نه اول پرې ځان پوهه کړي. دا د حرفونو مخرجونه (د ادا کولو ځایونه) او صفات دي چې د هغې په برکت حرفونه د ټولو نه غوره لغت (لهجې) موافق ادا کړے شي. دا لهجه (لغت) عربي یا قریشي ژبه ده چې قرآن شریف په کښې نازل شوے دے او د تجوید او د وقف د ځایونو پیژندو کښې سترګې اوشي. ښۀ ئې اوپیژني او چې آسماني قرآن شریفونو کښې څۀ دي. په هغې هم پوهه شي یعني د اودریدو او یو ځاې کولو (بلې کلمے سره د تړلو) ځایونه او هغه "تے" چې د "ه" په شکل غوندهنۀ وي لیکلے شوے، بلکې د اوږدے ت په شکل لیکلے شوے وي." (۱۱)

ددغه کتاب د اشاعت نه علاوه د نصر صاحب په شاعرۍ کښې هم د هغۀ د مذهبي فکر نخښې څرګندې لیدے شي چې دلته ئې څو نمونې وړاندې کولے شي. په دیوان نصر کښې نصر صاحب چې د الله پاک نه دعا غواړي نو د مذهبي فکر انداز ئې په دې شان دي.

" په بدل کښې د دنیا د دین دولت را
په عقبې کښې ربه ته ښکلې جنت را
په خپل قول په خپل اقرار مې ته قائم کړے
د صدیق په دود خاونده صداقت را
همیشه لاس په دعا درته ولاړ یم
د عمر عادل په شانتے عدالت را" (۱۲)

ددغه دعا سره سره که د هغۀ یوه بله شعري مجموعه د ضمیر اواز کښې چاپ د نصر صاحب دعائیه شعرونه وکتے شي نو هغه د مذهبي فکر په بنیاد هم خداې پاک نه د پښتون اولس د خیر او کامیابۍ دعا غواړي او په دین اسلام د دوئ ثابت قدم پاتې کیدو خواست کوي په دغه دعائیه شعرونو کښې نصر صاحب د الله پاک په دربار کښې دا خوست کوي.

"خاونده تل آباد لرے وطن د پښتنو
آزاد دې وي له غیرو نه ګردن د پښتنو
د نصر دا دعا ده همیشه ستا په درګاه کښې
محتاجه چا ته مه کړے مرد و زن د پښتنو " (۱۳)

د سوي زړۀ اواز نومې مجموعې نه ئې دا حمد ولولئ.

لر په مزکه پاس په اسمان تۀ ئې
برله عرش په لامکان ته ئې
په هر هر رنګ کښې ښکاري جلوے ستا
كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَان ته ئې
سکرشي څنګه به نصر کاندي
حاضر ناظر چې هر زمان تۀ ئې " (۱۴)

**د پښتو ژبې او ادب فکر**: د اروانباد نصر الله خان نصر صاحب په فکر چې غور وشي نو د ټولو نه بنيادي نکته په کښې د پښتو ژبې او ادب فکر کول دي .بلکې د مير رحمان غازي په الفاظو د هغۀ د ژوند مقصد د پښتو او پښتون خدمت دے . د خپل ژوند واحد مقصد ئې د پښتو او پښتون خدمت ګرزولے دے . د سرکاري نوکرۍ خدمت ، اعزاز ، انعام و اکرام ئې هېڅ اراده او خيال نشته. د هغوئ د ګرزيدلو واحد مقصد د ادبي ټولي اشاعت ، ممبران زياتول او همدردان پېدا کول دي . په تهيله کښې ورسره د ممبرۍ فارمونه او يو څو کتابونه موجود وي چې چا سره يو دوه خبرې او کړې نو زر ورته د ممبرۍ فارم وړاندې کړي . خپل تصنيف ورته تحفه ورکړي او هغه په خپل کلام او باطني کشتي سره دومره متاثر کړي چې هغه قطعي طور سره د پښتو ژبې خادم او ددې د ترقۍ خواستګار شي . (۱۵) د ژبې او ادب د خدمت دپاره د نصر صاحب د فکري او عملي هڅو نقشه ښاغلے مير رحمان غازي داسې راکاږي.

د نصر صاحب د تحريک اصلي کار د اسلاميه کالج نه شروع کېږي . دلته د پښتو جلسې او انعامي تقريرونه ، مشاعرې د نصر صاحب د کوششونو برکت دے . په خيبر ميګزين کښې د پښتو حصه کښې پېښور هلکانو او پروفيسرانو په کښې ډېره دلچسپي شروع کړه . پروفيسران ئې په بحث او مذاکرات سره خپل هم خيال کړل په هلکانو کښې ئې د ژبې د ژوند ئې کولو يو نوې جذبه پېدا کړه . هم په دغه دوران کښې پښتو د ايف اے او د بي. اے په امتحاناتو کښې مقرر شوه او په کښې د تصنيف او تاليف کار شروع شو. په پېښور کښې ئې بزمِ ادب قائم کړو او لوئې لوئې اديبانو او شاعرانو له ئې د عوت ورکړو. چې هغوئ د پښتو د ترقۍ په اړخونو غور او فکر اوکړي. د پېښور نه هفته وار "افغان" اخبار

د هغوئ په داد او ډاډګيرنې ډېره ترقي اوکړه او د پښتو اشاعت کښې ئې ډېر مدد اوکړو. د ے نه پس په سن نولس سوه درې څلويښت کښې نصر صاحب په بر تهکال کښې ادبي ټولي قائمکړو. چې هغه په صوبه سرحد کښې د پښتو ژبې لوئې ټولي دے . له دے نه پس چې نصر صاحب د پښتو ژبې څۀ خدمت کړے دے. ددې ټولي لاندې کړے دے." (۱۲)

د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ فکر نصر صاحب هر وخت کړے دے او د هر پليټ فارم نۀ ئې کړے دے. په خصوصي توګه د ادبي ټولي پېښور د پليټ فارم نه هغۀ د پښتو ژبې او ادب د پاره خپل فکر او نظريې تـه د عملي جامې اغوستلو هڅې کړې دي . د نصر صاحب د خپلې ژبې او ادب د پاره د فکر او نظريې اندازه د ادبي ټولي د مقاصدو نه کېږي چې په دې ډول دي.

۱) د پښتو ادب له ترقي ورکول.
۲) پښتنو زلمو ته د تقرير کولو چل ښودل.
۳) اميانو تـه پـه پښتو ، اردو ، عربي ، انګريزي او فارسۍ ژبه کښې حساب او ليکل ، لوستل ، علم و هنر ښودل.
٤) کلي کښې د کتب خانې او د اخبارونو انتظام کول.
٥) د پښتو ښۀ ښۀ نظمونه او د نثر مضامين قوم تـه د کتاب پـه شکل کښې پيش کول. " (۱۷)

نصر صاحب چې د خپلې ژبې او ادب د پاره کوم فکر او نظر لري د هغې عکس د نصر صاحب په شاعرۍ کښې هم ځاې په ځاې موندلے شي. د هغۀ په ورومبۍ شعري مجموعه ديوان نصر صاحب ګڼ شمير کښې شعرونه او پوره پوره نظمونه داسې شته چې د خپلې ژبې او ادب د پاره د نصر صاحب د فکر و نظر ترجماني کوي. چې دلته ترې نظم " خوشحال خان خټک " د نمونې په توګه وړاندې کولے شي. په دغه نظم کښې نصر صاحب يو خوا کـه د خوشحال بابا شخصيت ، کردار ، غيرت ، ننګ او مړانه ستائيلې ده نو بل خوا ئې ورسره د خوشحال بابا پښتو ژبې او ادب د پاره سپيځلې جذبه او د خوشحال بابا د خپلې ژبې او ادب خدمت هم ستائيلے دے .دغه نظم کښې نصر صبب د خوشحال خټک د يادونې په ترڅ کښې د پښتو ژبې او ادب د مخ په ترقۍ فکر ته اشاره کړې ده.(۱۸)

نصر صاحب په خپله دوئمه شعري مجموعه د ضمير اواز کښې هم د خپلې ژبې او ادب غم ژړلے دے او ګڼ شمير کښې شعرونه ئې د خپلې ژبې او ادب د ترقۍ د پاره او ددې ژبې او ادب د بقاء په خاطر د خپلې جذبې د اظهار د پاره وئيلې دي۔ تر دې چې نصر صاحب د پښتو ژبې په ټول عالم کښې د څلولو قسم خوړلے دے۔ نصر صاحب وائي۔

يا به نصره پښتون نۀ وائمه ځان ته
يا به دا پښتو څلومه کُل عالم کښې " (۱۹)

نصر صاحب چې د خپلې ژبې او ادب د خدمت په جذبه کوم شعرونه وئيلي دي ۔ د هغې د حوالو سره ښاغلي هميش خليل د ضمير آواز په پيژندګلو کښې د نصر صاحب په دغه قسمه فکر او نظريه تبصره کړې ده چې په وړاندې بحثونو کښې هم ورته اشاره شوې ده۔ ښاغلے هميش خليل په دې حقله ليکي !

" نصر صاحب چې په ښۀ بد پوه شو۔ مور پلار مدرسے ته اولېږلو۔ نو د تعليم حاصلولو سره سره ئې په مدرسه کښې د پښتو ژبې د ترقۍ تبليغ شروع کړو۔ پښتو سره ئې مينه شوه او دغه مينې د ليونتوب حد ته اورسولو۔ عن تر دے چې د سکول ابتدائي تعليم نه فارغ شو او کالج کښې داخل شو نو بيا خو به رښتيا ځنې ناپوهو نصرصاحب د مجنون نه کم نۀ ګڼلو۔ ولے د خپل همت او کوشش په تکيه د هغه دوربين نظر به چې د پښتو ژبې د کاميابۍ د اميد کوم خلق د وختي تيرو دورو سته ليدو نو دغه خندنو پورې به ئې خپله اوخندل او اوبه ئې وئيل۔

دا په ژوندوني چې کوم خلق ليونے ګڼي ما
خدائيکو په مرګ به مې هم دا خلق خازے ښکلوي (۲۰)

د پښتو ژبې او ادب د فکر په نتيجه کښې چې نصر صاحب د ادبي ټولې د سيورې لاندې کومې هځې کړې دي۔ د هغې ذکر وړاندې بحث کښې شوے دے خو دلته د هميش خليل صاحب د تبصرې سره ئې تفصيلي ذکر کولے شي ۔ هميش خليل صاحب د ادبي ټولې د ذکر سره سره د نصر صاحب د ځنو شعرونو مثالونه هم پيش کوي او دغسې د نصر صاحب د فکر رڼا باندې رڼا اچوي او ليکي : " نصر صاحب نۀ يوازے د خپل مشن خورولو د پاره د هر پښتون در ته لاړو بلکې د دغه مقصد د مزيد تقويت د پاره په کال ۱۹۴۳ء کښې د پښتو ژبې د ترويج او

ترقۍ د پاره د يو ادبي انجمن چې نوم ئې " ادبي ټولے" وه . بنياد کېښود او کلو کښې ئې د تعليم بالغان سلسله جاري کړه او هر ممکنه طريقه به ئې خپل مشن خورولو زيار ويستلو. دغه شان نه صرف د قام په خوږ د نصر صاحب د زړۀ خوږ مند آواز د کوزے پښتونخوا تر هرې حجرې او جماته اورسيدو. بلکې د افغانستان تر پښتنو ئې هم د خپل ضمير دغه آواز اورسولو. دا بيا ۱۹۴۲ء زمانه وه . دلته دا خبره به بې ځايه نه وي چې تقسيم نوے نوے شوے وۀ او د مسلم ليګ د وزارت دا پاليسي وه چې پښتون چيخنې کړي او پښتو نيت ترے اوباسي. او حکومت د خپلې دغه پاليسۍ په وجه هغه پښتانه محبان چې په زړه کښې به ئې لږ هم د وطن او پښتو درد لرلو. د بندي خانے تورو تيارو ته ئې ګذار کړل. د سيفټي قوانينو جالونه به ئې ورته خواره کړل او شهر ناپرسان غونډې به په عمرونو د جيل تورو کوټو کښې بې پرسانه پراته وو. د پښتو او پښتون نوم اخستل جرم وۀ. ولے زۀ وايم چې ښه وه د مسلم ليګي وزارت چار دې ښه وي. د پښتون د فطرت د حقيقت نه بې خبره خلقو چې څۀ اوکړه . هغه د پښتو او پښتون پحقله سودمند ثابت شو." (۲۱)

دغه شان نصر صاحب په خپله يوه بله شعري مجموعه دا سوي زړۀ اواز کښې هم د خپلې ژبې غم ژړلے دے او د دې ژبې او ادب د بقا او ارتقا د پاره فکرمند پاتې شوے دے . ددې کتاب په پيژندګلو کښې ښاغلي حافظ محمد ادريس د نصر صاحب خپلې ژبې او ادب سره د جنون او ليونتوب تر حده د مينې ، عقيدت او شوق جذبه څرګنده کړې ده او نصر صاحب ئې د خپلې ژبې مئين ، پتنګ او ليونے ګڼلے دے . حافظ ادريس صاحب ليکي !

"....خو نصر صاحب چې يو ځل په وړوکوالي کښې د پښتو ژبې سره کوم لوظ کړے وو. په هغې ټينګ پاتے شۀ او خپله پښتو ئې پرې نۀ ښوده." (۲۲)

د نصر صاحب د مختلفو شعرونو د حوالو او مختلفو ليکوالو او دانشورو د رايو نه دا څرګنده شوه چې نصر صاحب د خپلې ژبې او ادب د پاره کوم فکر او نظر لرلو شايد چې مثال ئې هم پيدا نۀ شي او د ژبې او ادب د خدمت په ترڅ کښې ئې پښتنو ته د ازادۍ احساس ورکولو . د ښاغلي فقير حسين ساحر دا راې بيخي درسته ده:

" پشتو زبان و ادب کی ترویج و اشاعت اور ترقی کا مقصد صرف زبان و ادب کی ترویج و اشاعت اور ترقی نہیں تھا بلکہ اس کے ذریعہ انگریزی حکومت میں سرحد کے عوام و قبائل کو غلامی کا احساس دلا کر خوابِ غفلت سے بیدار کرنا ' ان کی جہالت کو ختم کرنا اور ان کو آزادی کے حصول کے لئے تیار کرنا تھا اور

حصول آزادی کے بعد رہی سہی جہالت کو ختم کرنا اور جہالت کو ختم کرنے کے بعد قوم کو قوم اور ملک کی تعمیر و ترقی میں حصہ لینے کے لئے تیار کرنا ہے اور نصر صاحب اپنے اس مقصد میں کامیاب ہیں۔ "(۲۳)

## • پایله/ نتیجه:

د دې خور وور بحث نه مونږ دې نتیجې ته رسو چې نصر صاحب په خپل ژوند کښې د پښتون اولس ، پښتو ژبې او ادب او پښتنې ټولنې د بقا او ارتقا سره سره په عمومي توګه هم په انساني معاشره کښې د انساني وقار ، شرف او مقام او تهذیب و تمدن په حقله یو واضح تصور او نظریه لرله چې د نصر صاحب د فکر ترجماني کوي. د نصر صاحب مذهبي تصور ، سیاسي نظریه ، ټولنیز او معاشرتي سوچ او ادبي انداز په مجموعي توګه د هغه د فکر و نظر نخښې ښائي او دا هم څرګندوي چې په هره زاویه او هر انداز د نصر صاحب سوچ او فکر ډېر مثبت او مهذب پاتې شوے دے . هم دغه وجه ده چې نن هم د پښتو ،پښتون او پښتو ادب د ودې او بقا د پاره د نصر صاحب فکر د لارې د مثال کار ورکوي.

نصرالله خان نصر هم د پښتو د ژبې او ادب د خدمت چې کومه بېړۍ ته اوږه ورکړې وه ، هغه ئې تر مرګه پورې په خپلو اوږو وساتله او د دوي د دغه تفکر او مدبرانه سوچ په بنیاد نن پښتو ژبه په نړیواله کچه په مترقي ژبو کښې شمېرلے شي او پښتون قام ئې ورباندې کړه ترې.

## حوالې


۱) خلیل ، حنیف ، د ښکلا هنداره ، دانش کتب خانه پېښور ، ۱۹۹۸ء / ۱۳۷۷ھ ، ص: ۷۵
۲) جلال پوري ، علي عباس ، خردنامۀ جلالپوري ، تخلیقات لاهور ، باردوم ، اګست ۲۰۰۰ء ، ص: ۹۵ ، ۹۲
۳) غازي ، میر رحمان ، د صحرا ګل ، (اداره نۀ لري) ، ۱۹۴۷ء ، ص: ۴۲
۴) ایضاً ، ص: ۱۳۲ تا ۱۴۰
۵) ایضاً ، ص: ۱۴۰ تا ۱۴۵
۶) ایضاً ، ص: ۷۲ تا ۸۳
۷) خلیل ، همیش ، پېژندګلو ، مشموله ، د ضمیر اواز د نصر الله خان نصر ، شاهین برقي پریس پېښور ، فروري ۱۹۵۸ء ، ص: ق ، ک
۸) غازي ، میر رحمان ، د صحرا ګل ، ص: ۹۱ ، ۹۲
۹) ایضاً ، ص: ۲۰۰ ، ۲۰۱
۱۰) خلیل ، همیش ، دا رساله ، مشموله ، معرفته القرآن ، مرتبه نصرالله خان نصر ، نصر اکېډمي پېښور ، مارچ ۱۹۲۲ء ، ص: ا ، ب
۱۱) محمد ، محمد جذري ، معرفته القرآن ، ص: ث ، ج
۱۲) نصر ، نصرالله خان ، دیونا نصر ، رحمان نیوز ایجنسي پېښور ، (س ن) ، ص: ۱
۱۳) نصر ، نصرالله خان ، د ضمیر اواز ، ص: ۱ ، ۲
۱۴) نصر ، نصرالله خان ، د سوي زړۀ اواز ، دارالتصنیف پېښور ، جنوري ۱۹۲۳ء ، ص: ۱ ، ۲
۱۵) غازي ، میر رحمان ، د صحرا ګل ، ص: ۴۱
۱۶) ایضاً ، ص: ۵۴ تا ۵۷
۱۷) نصر ، نصرالله خان ، د امب سفر ، ادبي ټولے پېښور ، ۱۹۴۲ء ، بیک ټائټل
۱۸) نصر ، نصرالله خان ، د دیوان نصر ، ص: ۸ ، ۹
۱۹) نصر ، نصرالله خان ، د ضمیر اواز ، ص: ۷
۲۰) ایضاً ، ص: ج ، د ، ر
۲۱) ایضاً ، ص: ر ، س ، ص
۲۲) ادریس ، حافظ محمد ، پېژندګلو ، مشموله د سوي زړۀ اواز ، ص: ا ، ب ، ج
۲۳) ساحر ، فقیر حسین ، بابائے پشتو نصرالله خان نصر ، ص: ۸ ، ۹